پوهنمل حاجی محمد نوزادی ۲۰۱۲/۰۷/۳۰

# د « خبریال » له ستونی نه ها کرغیرن لاسونه لیری کړی!

دبیان ازادی دبشر دحقونو یو بنسټیز توکی دی. ددی حق څخه د ګټی اخیستلو تر ټوله غوره او اغیزمنه لار رسنی دی. د رسنیو ټول شکلونه د ړغه ایزو نه نیولی بیا تر تصویری، چاپی، بریښنایی او نورو پوری دا ټول هغه دی چی له لاری یی وطنوال په ټولنه کی د شته ناخوالو او په بیلابیلو برخو کی دترلاسه شوو بریاوو څخه خبریدلای شی. همدا رسنی دی چی د خلګو ږغ تر چاراوکو پوری رسوی څو په اړوند یی اړینی کړنی تر سره کړی. همدا رسنی دی چی د ټولنی غړی یو دبل سره نښلوی، یو دبل په حال یی خبروی او د دغی لاری نه یی یو موټی کوی. ګلوبالیزیشن چی په اروپا، امریکا او نورو پرمختللو هیوادونو کی په خورا درنه سترګه ورته ګوری او پری نازیږی، دهمدغو رسنیو په مټ پرمختګ کوی تر څو دټولی نړی نه یو کلی جوړ کړی.

له نیکه مرغه پدی وروستیو کلونو کی دهیواد په دننه او همدارنګه د نړی په کچه د بیان دازادی حق ترلاسه کولو په چارو کی یو لړ مثبت بدلونونه راغلی چی باید په خوښی او درناوی سره یی یادوونه وشی. په کور دننه کی د بیان ازادی چی پخاطر یی د اوږدو لسیزو راهیسی د هیواد رون اندو مبارزه کول او پدی لاره کی یی د یاوونی وړ قربانی هم ورکړی دی، داګړی ترهغی کچی ترلاسه شویده چی په سیمه کی یی ساری لږ لیدلای شو. د نړی په کچه بیا د نوی تکناوژی په پرمختګ سره د رسنیو د پاره هغه اسانتیاوی منځته راغلی چی څو لنډ کلونه وړاندی یی په اړه فکر کول هم ګران ښکاریده.

د نوی تکنالوژی په مټ اوس دنیکه مرغه رسنی کولای شی د څو دقیقو او ان ثانیو په ترڅ کی یوه لیکنه یا تصویر د میلیونو کسانو لاس ته ورسوی. له بده مرغه باید په خواشینی سره یاده شی چی تر اوسه لا د تورو شپو دیبانو مټان دومره زور لری چی دغی نوی تکنالوژی ته هم خپلی ککړی منګولی ور وړی او په رسنیو کی د روښنایی زیری راوړونکی پیغام په ستونی کی ورته خاموش کړی.

نژدی څلور کاله وړاندی د زړه ور ژورنالیست صمد روحانی د شهادت دلومړی تلین په تړاو د هیواد یوه وتلی ځوان ژورنالیست **میرویس افغان** د « **خبریال** » پنامه یوه بریښنایی ویبپانه پرانیستل چی په ډیره لنډه موده یی دهیواد به لروبر کی ښایسته زیات شمیر لوستونکی او مینه وال تر لاسه چی هره ورځ به د نوو خبرونو په موخه ورته سترګی په لار وه.

افغان دښمن پاکستانی چاراوکی چی تل یی د افغانانو پر مادی او معنوی ښیګڼو باندی پښی ایښی دی، داځل یی د «**خبریال**» ګریوان ته لاس واچاوه، دهغه په خپریدو یی په اصطلاح د پاکستان په قلمرو کی بندیز و لګاوه او دخلګو د غوښتنی ږغ یی ورته په ستونی کی خفه کړ. دوی همدارنګه د نوی تکنالوژی نه په ناوړه ګټه اخیستلو او پدی تخنیک کی د چلبازیو د لاری د افغانستان په ډیرو سرحدی سیمو کی هم تر « **خبریال** » پوری دخلګو د لاسرسیو لاره بنده کړه او پدغو سیمو کی یی ددغی رسنی انترنیټی ترافیک ګډود کړ.

موږ په ډیر خفګان سره د « **خبریال** » پرخپریدو باندی د بندیزونو لګول دبیان د ازادی مخنیوی، دبشر پر بنسټیزو حقونو باندی پښه اېښودل او دعلم او فرهنګ سره دښمنی بولو. د پاکستانی چاراوکو نه په ټینګه غوښتنه کوو چی هر څه ژر ددی ناوړه کار نه لاس واخلی او پریږدی د اولس ږغ تر اړوندو کسانو پوری ورسیږی. موږ د افغانستان د کلتور وزارت نه غواړو چی د چوپی خولی لوبه پریږدی او پدی اړوند لا نور بی طرفه پاته نشی. موږ د افغان ژورنالیستانو د اړوندو ټولنو او همدارنګه په کابل کی د ملګرو ملتونو د اړوندو څانګو نه هیله کوو چی دی خبری ته پام واړوی او دخپلو چاینلو دلاری لاس په کار شی.

- ازاده دی وی دبیان ازادی!


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

- لنډ دی وی د پاکستانی چارواکو کرغیړن لاسونه!

د ډنمارک د Aarhus په ښارکی د **افغانانو فعالی اتحادیی** د کلتوری ځانگی په سپارښت

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ